EUROPEAN UNION

د افغانستان لپاره د څېړنې د بنسټ

AREU



# د غومبسو په ځاله کې لاس وهل:

## کليوال وګړي، د بغاوت پر ضد پوځي عملياتو ته په کومه سترګه ګوري

ډېوېډ منسفيلډ

سلواغه ۱۳۹۷

**د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**

څېړنپاڼه

# د غومبسو په ځاله کې لاس وهل:

## کليوال وګړي ، د بغاوت پر ضد پوځي عملياتو ته په کومه سترګه ګوري


ډيويډ منسفيلد



سلواغه ۱۳۹۷

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۲۴۱-۱۴-۳

ژباړه	کاظم ملوان

انځورونه: OSDR،Alcis، ډیوید منسفیلډ

د خپروني کوډ	P ۱۸۱۴

©۱۳۹۷ د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه کیدای شي یوائځې د غیری سواګریزو موخو لپاره نقل، خبر او یا بیا ځلې چاپ شي په دی شرط چې لیکوال او منبع یې خبره شی. په یاده خپرونه کې ځای شوی نظرونه لیکوال پوری اړه لرې او په حتمی ډول د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری او اروپایې ټولنې نظرونه نه منعکوسوی.

که چیری دغه خپرونه بیاچاپ، ذخیره او یا بریښنایې بڼه یې لیږدول کیږی باید یو لینک یې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af ") ته واستول شي. او یا هم د بریښنالیک او یا هم ټلیفون شمیری له لیاری اړیکه ونیسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنې یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲ م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسی پورې اړوند څېړنې برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو نشرول او همداسې د شواهدو پر بنسټ د څېړنې او زده کړې د کلتور خپرول دی. د پنسیلوانیا دپوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څېړنیز بنسټ په توګه دلوړ مقام لرونکې ده او په منځنۍ آسیا کې د څېړنیزو بنسټونو په منځ کې په پنځمه کچه کې ځای لري. د افغانستان دڅېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې دلاسته راوړلو لپاره د پالیسیو جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان دڅېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتونه کار واخلي او دڅېړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینې نوروسازمانونو، مدنی ټولنې او دخپلواکو کارپوهانو استازې په کې شامل دي، اداره کیږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانیا کې د پروسپیکټ (Prospect Magazine) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نیزې ادارې جایزه ګټونکې شوه.

Prospect
Think Tank Awards
WINNER
International - Social

**تمویلونکی:**

د دی اداری تمویلونکی د سویډن نړیواله پراختیایې اداره (SIDA) او لاندی نور نړیواله بنسټونه دی:

European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), United States Institute of Peace (USIP), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Food and Agriculture Organization of the United Nations (FAO), Overseas Development Institute (ODI-UK), Institute of Development Studies (IDS) and Swiss Agency for Development and Cooperation (SDC), and British Council (BC).

همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لري:

Resolve Network, Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), Global Challenges research Fund (GCRF), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict, Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB-Asian Think Tank Network (ATTN) and The Central Asian Think Tank Network (CTTN).

## د ليکوال په اړه

ډيوډ منسفيلد د لندن د اقتصاد د کالج د مديره هييت يو جګپوړی غړی دی. ده په افغانستان کې د ۲۰ پرله پسې کلونو لپاره د کليوالي معيشت او د کوکنارو د کښت په اړه، د کښت په موسمونو کې څېړنې کړې دي. دی په لندن کې د افريقايي او اسيايي مطالعاتو له پوهنځي څخه د پرمختګ په چارو کې PhD لري او د په شګو ولاړ يو دولت: ترياکو افغانستان څنګه کمزوری کړ د کتاب ليکونکی دی. ډيوډ له **۲۰۰۵** څخه راهيسې د AREU لپاره کار کړی دی.

## سریزه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU)، له خپلو څېړونکو او شریکانو (همکارانو) څخه مننه کوي، چې په نه ستړي کېدونکي کار او ځان تېرېدنې سره، له ننګونو ډک چاپېریال کې یې، داسې یوه پدېده څېړلې، چې د خنډ لامل په توګه د افغان وګړو ژوند او لنډ مهال معیشت ګواښي.


موږ له اروپايي ټولنې څخه، چې د طبیعي زېرمو د مدیریت (NRM) په اړه یې زموږ له څېړنې څخه پرله پسې ملاتړ کړی دی، مننداوی یو.

د متحده ایالاتو په اداره کې له بدلون سره سم، په افغانستان کې د بغاوت ضد یوه نوې تګلاره جوړه شوه.

«خلکو ته د نږدې کېدو» کړنلاره، چې د «خلکو د زړونو او ذهنونو پر ګټلو» یې تمرکز درلود، خپل ځای، د یاغیانو او د هغوی د مالي مرسته کوونکو په وړاندې، یرغلیز پوځي کړنلارې ته پرېښود. دغه تګلاره په تېره بیا په مرکزي هلمند کې ډېره تر سترګو کیږي؛ چېرې چې د افغانستان حکومت او د متحده ایالاتو پوځ ډېر زیات پر هوایي بریدونو تکیه کوي، ترڅو د هېروینو د تولید هغه لابراتوارونه ویجاړ کړي، چې د یاغیانو د تمویل سرچینه ده.

د ډاکټر منسفلډ دغه څېړنه د یاغیانو پر ضد د افغانستان د حکومت او متحده ایالاتو ګډو عملیاتو په اړه د مرکزي هلمند د خلکو د درک او پوهې په اړه، ارزښتناک او ژورلید وړاندې کوي. دغه څېړنه، څرګندوي چې څرنګه یاده تګلاره منفي ثابته شوه او څرنګه یې په سیمه کې یې د ګڼو خلکو دښمني راوپاروله او په عین حال کې د لاډېر تاوتریخوالي لامل شوه. ډاکتر منسفلډ داسې وړاندیزونه وړاندې کوي، چې ښایي د حکومت او متحده ایالاتو د ځواکونو پر وړاندې د ځایي خلکو د منفي احساساساتو په کچه کې کموالی راولي او په تلپاتې توګه د تریاکو د له منځه وړلو لپاره لاره هواره کړي.

د غومبسو په ځاله کې لاس وهل، د ډاکټر منسفلډ دغه څېړنه، د نوموړي د نورو څېړنو په څېر، په افغانستان کې د کوکنارو او تریاکو تولید د اغېزې په اړه زموږ د پوهاوي لپاره اړینه ده. د دغې څېړنیزې مقالې موندنې، کولای شي د دغې موضوع په تړاو د پرمختیایي کارکوونکو، مدني ټولنو او د افغانستان د حکومت لپاره د اړتیا وړ لید وړاندې کړي او راتلونکو هڅو ته د ښه ورکولو برخه کې مرستندوی واقع شي. موږ هیله لرو، ، په داسې حال کې، چې په راتلونکو اونیو کې د کوکنارو د کرکیلې کلنۍ راپور، له نشه یي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر (UNODC) له خوا چمتو کېږي، دغه څېړنه، د هلمند ولایت د مرکزي برخې وضعیت د ژورلید شننې په توګه وکارول شي او په دې برخه کې یوه پروخت مرسته برابره کړي.



ډاکتر اورځلا نعمت
د افغانستان د څیړنی او ارزونی رئیسه

# د موضوعاتو لیکلړ


۱. د لیکنې لنډیز ..... و

۲. میتودولوژي (څېړندود) ..... ۲

۳. د تاوتریخوالي مخ پر زیاتېدونکې کچې په اړه راپورونه ..... ۳

۴. ښه خلک چېرته دي؟ ..... ۷

۵. پر لابراتوارونو بمباري یا د نورو ستونزو رامنځته کیدل: ..... ۱۰

۶. د وضعیت لا ترینګلتیا ..... ۱۱

۷. پایله ..... ۱۵

۸. وړاندیزونه ..... ۱۶

# ۱. د لیکنې لنډیز

د بوش او اوباما د ادارو په موده کې د یاغیانو پر وړاندې، د متحده ایالاتو د کړنلارې اصلي ټکی، د خلکو «د زړونو او فکرونو ګټل» وو. دغه کړنلاره، د «ولس محورې» کړنلارې په نامه نومول شوې وه، چې د « تصفیه کولو، ساتلو او آبادولو» د تګلارې پر بنسټ ولاړه وه. د دغې تګلارې له مخې به ائتلاف او افغان ځواکونو ځانګړې سیمه له یاغیانو څخه پاکوله، سیمه یې تر هغو ساتله، چې د یاغیانو د نفوذ او اغېزې په کچه کې کموالې راتله، تر هغه وروسته به په سیمه کې د حکومتولۍ او پرمختیا لپاره پانګونه کوله. هغه مهال انګېرنه دا وه، چې داسې یوه تګلاره به د وګړو او خلکو ملاتړ ترلاسه کړي.

هلمند ولایت، د ۲۰۰۸ او ۲۰۱۲ کلونو ترمنځ، د یاغیانو ضد همداسې یوې (ولس محورې) هڅې او کړنلارې مرکزي ټکی جوړاوه. داسې اټکل کېږي، چې د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۱ کلونو ترمنځ، په دغه ولایت کې تر ۲۴۸ میلیونو امریکایي ډالرو ۱ زیاتې پیسې د لګښت ترڅنګ، هلته تر ۲۰۰۰۰ زیات امریکایي سمندري ځواکونه، بریتانوي، ډنمارکي او افغاني پوځي ځواکونه میشت وو.۲ د ۲۰۰۹ کال په وروستیو کې، د ناوه بارکزي ولسوالۍ، چې د ولایت د مرکز لشکرګاه ښار په سویل کې نږدې موقعیت لري، د بغاوت ضد هڅو پر یو سمبول بدله شوه او یاده ولسوالۍ ته د «خلکو د لومړیتوب»۳ بېلګه ویل کېدله. دغه کړنلاره بیا وروسته د نادعلي او مارجې ګاونډیو ولسوالیو ته کله چې د ۲۰۱۰ ز. کال په فبرورۍ ۴ کې، تر ۳۰۰۰ زیات امریکایي سمندري ځواکونه، ۱۲۰۰ انګریزي او ۴۴۰۰ افغان سرتېري د ګډو عملیاتو لپاره هلته مېشت شول، په داسې حال پراخه شوه، چې پر فزیکي او ټولنیزو بنسټونو او زېرېناوو میلیونونه ډالر لګول شوي وو.

د تاوتریخوالي کچه ټیټه شوه ۵، خو لاسته راوړنې لنډمهالې وې؛ ځکه چې نړیوال پوځي ځواکونو د ۲۰۱۴ ز. کال په اوړي کې سیمه پرېښوده، او ورسره جوخت په سیمه کې د افغان ملي اردو او امنیتي ځواکونو (ANDSF) خوځښتونه او کړنې هم کمې شوې. په مرکزي هلمند کې پانګونه، هم د مرسته کوونکو د مالي مرستو د کچې په کمېدو سره، ورو ورو کموالي ومونده. د ۲۰۱۲ کال په منې کې بغاوت یوځل بیا ډېرزور وموند او د افغان ملي اردو او امنیتي ځواکونو په نادعلی، مارجه ، او ناوه ولسوالیو کې خپلې پوستې پرېښودې او هلته یوازې محدود شمېر سیمه ییزه پرمختیایي پروژو شتون درلود. د ټرمپ د ادارې په پیل کې، له افغانستان سره د متحده ایالاتو د راتلونکې مرستې په تړاو تر بحثونو وروسته، د بغاوت پر ضد نوې تګلارې – د سویلي آسیا پالیسي – جوړه شوه. په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو ځواکونو د عمومي قوماندان جنرال نیکلسین په وینا ، ځواکونه یې د امریکا «د ولسمشرۍ په چارواکو کې تر بدلون وروسته»، چې د یاغیانو او هغو کسانو پر وړاندې چې ګومان کیږي، له مالي پلوه دوی تمویلوي ۶، له یرغلیز پوځي تګلارې څخه ملاتړ کوي، «له دښمن سره به په ټولو اړخونو کې جګړه وکړي».۷

دغه څېړنه مستندوي، چې دغې نوې تګلارې ته د مرکزي هلمند کلیوالو خلکو له خوا ، هم په هغو سیمو لکه مارجه، ناوه، نهر سراج او نادعلی کې، چې د کانال پر اوبو خړوبې کېږي او هم د بغرا د کانال په شمال کې د پخوانیو دښتو د اوسیدونکو له خوا ، په کومه سترګه کتل کېږي. دغه څېړنه، د ۲۰۱۸ کال د مې په میاشت کې، د هلمند په کلیوالي سیمو کې د ترسره شوي ساحوي کار پر پایلو او لوړ کیفیت لرونکو انځورونو پر بنسټ ولاړه ده. یاده څېړنه ټینګار کوي، چې د ۲۰۱۸ کال له پیلېدو سره سم، مرکزی هلمند یو ځل بیا د داسې جګړې پر ډګر بدل شو، چې – د بغاوت ضد اصلي وګړو د پلویانو په خبره د خلکو ډالۍ نه وه – بلکې خلک پکې د دوامدار تاوتریخوالي د لښکرکشیو محسوس قربانیان وو، چې زیاتره کروندګر باور لري، د امریکا متحده ایالاتو او افغان پوځیانو په قومنده وه. دغه څېړنه همدارنګه ښیي، د هوایي یرغلونو په پایله کې، چې د هېروینو کارخانې یې تر موخې لاندې ونیولې، د تریاکو په بیه کې د پام وړ ټیټوالی او مخ پر ځوړ اقتصادي وضعیت، د دې لامل

۱ . فوقاني تربیع، «له نشه یي توکو سره مبارزه او د معیشت بدیل ارزونه» (د بریتانیا د بهرنیو چارو وزارت، ناخپور شوی راپور، ۲۰۱۱، ۱۳ مخ).

۲ . د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړي پلټونکي څېړنه، «پایښت (ثبات): د افغانستان له تجربو څخه ترلاسه شوي درسونه» ۲۰۱۸ [د ۲۰۱۸ د مې میاشت]، ۱۷۷ (https://www.sigar.mil/interactive-reports/stabilization/index.html ) د ۲۰۱۸ کال د سپتمبر پر ۱۱مه، ورته لاسرسي وشو.

۳ د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړي پلټونکي څېړنه، «پایښت (ثبات): د افغانستان له تجربو څخه ترلاسه شوي درسونه» ۲۹-۳۰ .

۴ . تیو فارل، د نه ګټلو وړ : په افغاسنتان کې د بریتانیا جګړه، ۲۰۱۱-۲۰۱۴ (لندن: پنګوین رندم هوز ) ، ۳۱۰ .

۵ . د افغانستان د بیارغونې لپاره د ځانګړي پلټونکي څیړنه، «پایښت (ثبات): د افغانستان له تجربو څخه ترلاسه شوي درسونه» ۱۷۲؛ فارل، د نه ګټلو وړ، ۳۲۵.

۶ . سی. توماس، «د افغانستان تاریخ او متحده ایالاتو پالیسۍ ته لنډه کتنه» (د کانګرس څېړنیز راپور R۴۵۱۲۲، د ۲۰۱۸ کال جون، د کانګرس د څېړنو خدمتونه) ۱۰.

۷ . د افغانستان له کابل څخه د جنرال نیکلسون له دفاع وزارت مطبوعاتي تیلي کنفرانس؛ مطبوعاتي کړنې، جنرال جان ډبلیو نیکلسون جونیر، د غوڅ ملاتړ ماموریت او په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو عمومي قوماندان، د ۲۰۱۷ کال د نومبر ۲۰ مه. https://www.defense.gov/News/Transcripts/ /department-of-defense-press-briefing-by-general-nicholson-via-teleconference-fr/۱۳۷۷۷۵۳/Transcript-View/Article

شو، چې د حکومت پر ضد مخالفت او د تاوتریخوالي په کچه کې زیاتوالې راشي. د فساد تورونه، چې پر افغاني چارواکو او امنیتي ځواکونو باندې لګول کېږي او پر فزیکي یا ټولنیزو بنسټونو او زېربناوو د پام وړ پانګونې نشتوالی، له داسې یو حکومت سره د خلکو دښمني راپارولې، چې فکر کېږي یوازې د "خپلو جیبونو د ډکولو په غم کې دی". په دې توګه څېړنه دې پایلې ته رسېږي، چې په دغه ډول وضعیت او چاپېریال کې، د متحده ایالاتو او افغان حکومت ځواکونه، کېدای شي پر دې وتوانیږي، چې یوازې د مرکزي هلمند ځینې برخې له مخالفو ځواکونو څخه پاکې کړي، او د یو څه وخت لپاره یې وساتي، خو ډېره کمه وړاندوینه کېږي، چې دغه تګلاره وتوانیږي، د خلکو ملاتړ ترلاسه کړي. په پای کې وړاندیزونه، وړاندې کېږي.

## ۲.     میتودولوژي (څېړندود)

دغه څېړنه، د هغه ژور ساحوي کار او لوړو کیفیت لرونکو انځورونو پر بنسټ ولاړه ده، چې د **۲۰۱۸** کال په اپریل او مې میاشتو کې په مرکزي هلمند کې په **۲۰** څېړنېزو سایټونو کې ترسره شوې او اخیستل شوې دي. په ټولیزه توګه، له کلیوالي کورنیو سره **۳۲۲** مرکې ترسره شوې دي: چې **۱۸۰** مرکې په هغو **۱۲** څیړنیزو سایټونو کې، چې د مرکزي هلمند په هغو سیمو کې موقعیت لري، چې د کانال پر اوبو خړوبیږي، **۱۲۰** مرکې د څیړنو په اوو نورو سایټونو کې چې د بغرا د کانال په شمالي برخو کې واقع دي، او **۵۲** پاتې مرکې له هغو ښځو سره ترسره شوي دي، چې د پخوانیو دښتو په سیمه کې اوسیږي (لومړی شکل وګورئ). بشپړوونکي معلومات، له هغو کسانو او پلورونکو څخه ترلاسه شول، چې دغو ټولنو ته د اړتیا وړ توکي او خدمتونه لکه د نباتي ناروغیو ضد یا وابنه وژونکي درمل، د لمریزې برېښنا سولرونه او د ډیزل تیل، برابروي او پرهغوی یې پلوري. په دغه څېړنه کې، همدا راز د هغه ساحوي کار له پایلو څخه ګټه اخیستل شوې، چې پر **۲۰۰۸** ز. کال په دغو یو شمیر څېړنیزو سایټونو کې ترسره شوی و. [۸]

د لوړ کیفیت لرونکي انځورونه، له لیرې څخه اخیستل شوي انځورونه، د څېړنې نه جلا کېدونکې برخه جوړوله. د جغرافیایي معلوماتو په مرسته، څېړنیز سایټونه، د کوکنارو د کرکیلې، د محصول یا کښت د له منځه وړلو تاریخي بهیر او پرمختیایي مرستو لکه د غنمو تخمونو او کیمیاوي سرې، چې د هلمند د خوړو زون د جوړښت په چوکاټ کې چمتو شوې وو، د هلمند ولایت په مرکزی سیمه کې، د کانال په وسیله خړوبه شوو سیمو کې د کوکنارو د کښتونو د له منځه وړلو په ګډون له نشه یې توکو سره د مبارزې ماموریت، عامه معلوماتو او کرنیزو محصولاتو پر بنسټ، په ګوته شوي دي. د دغه چارې د ټاکلو لپاره، چې د موقعیت، ټولنیزو اقتصادي ډلو او د زېرمو د شتوالي له مخې، خوړو زون ته رسیدنې څرنګه توپیر کوي، د نباتي شاخصونو، بازارونو ته د نږدېوالي او د حاصل اخیستنې فصلونو په تړاو، له جغرافیایي معلوماتو څخه هم کار واخیستل شو.

له لیرې څخه د انځورونو اخیستل بیا وروسته د دې لپاره تر ګټې اخیستنې لاندې ونیول شو، ترڅو پر دې ټینګار وکړي، چې ساحوي کارکوونکي پیژندل شویو سیمو ته تللي او لومړني معلومات یې لاس ته راوړي او څېړلي یې دي. لوړ کیفیت لرونکو انځورونو، د څېړنې لومړنیو موندنو د لا زیاتې پلټنې: تر کرکیلې لاندې محصولاتو او نوو یا زیانمن شویو فزیکي بنسټونو د پېژندنې او په سیمه کې د بدلونونو د کچې تشخیص ته لاره هواره کړه. په پای کې، جغرافیوي شننو په ډېرو پراخو جغرافیوی سیمو کې، چې د څېړنې له ساحو څخه هاخوا (پورې خوا) پرتې وې، د څېړنو له موندنو څخه ملاتړ وکړ. همدارنګه یو ځایي ټیم، چې د سیمې په اړه ژوره پوهاوي لري او له یوې لسیزې راهیسې له مخکښو څېړونکو او لیکوالو سره، له نږدې کار کړی و، ساحوي کار ترسره کړ. له غیر قانوني یا پټو کړنو سره تړلو ستونزو په اړه د تفصیلي معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره، څېړنې د کورنیو د معیشت پر تګلارو تمرکز وکړ. د تریاکو د کښت او سوداګرۍ پر ضد مبارزې لپاره پر افغان حکومت فشار راوړل، چې د **۱۹۹۰** او **۲۰۰۰** کلونو په شان، ناقانونه نشه یي توکي یې له بزګرانو او نورو شریکانو سره د بحث پر یوه حساسه موضوع بدله کړې ده. په هر صورت، د شننو د بشپړولو لپاره، کله چې په ملي کچه د تریاکو  اقتصاد ته کتنه کېږي، کلیوالي کورنۍ د لاس موندنې ډېر ښه واحدونه ګڼل کېږي، ځکه چې دغه موضوع د کلیوالي معیشت په تړاو نورو کارونو او په افغانستان او نورو سیمو کې د تریاکو د تولید د ځانګړې ونډې په اړه نورو څېړونو لپاره نور ماخدونه برابروي.

په ساحه کې بحثونو، په یوه پراخه جغرافیایي سیمه کې، پر پېښو یا پدېدو د تمرکز پر ځای، چیرې چې ځوابونه په ډېریدونکي توګه تیوریکي بڼه نیسي، د ځواب ورکوونکو او د هغوی د کورنیو پر مستقیمو تجربو تمرکز درلود.[۹] له هغه ځایه چې کیدای شوای، د بزګرانو په کورونو کې د مرکو  ترسره کول له ځنډ او جهت نیونو سره مخامخ شي، نو کله چې هغوی په خپلو کروندو کې کار کاوه، دغې مرکې ترسره شوې. له بزګرانو سره له ډله ییزو بحثونو څخه ځکه ډډه وشوه، چې د حساسو موضوعاتو په تړاو له بزګرانو سره، چې د ټولنې د زورواکو تر اغیزې لاندې وو، ډله ییز بحث یوه نامناسبه چاره وه، همدارنګه د افغانستان په ځانګړې توګه سویلي ولایتونو په کلیوالي سیمو کې، مخ په زیاتیدونکې امنیتي اندېښنې او ستونزې، هم په دې برخه کې د ځنډ لامل و.

۸ . دغه تاریخي معلومات په ټولیزه توګه له هغو ۳۷۲۰ انفرادي مرکو څخه جوړ دي، چې په ۷ پرله پسې کلونو کې په هرو ۲ میاشتو کې ترسره شوي دي او د ۲۰۱۱ کال د مې تر میاشتې پورې، د بغرا کانال په شمال بیاباني سیمو کې د ۸ څېړنیزو سایټونو په ګډون، ۲۸ بېلابېل څېړنیز سایټونه تر پوښښ لاندې راولي. لومړنی ساحوي کار د ۲۰۰۷ کال (N۴۲) په نومبر/ دسمبر میاشتو کې یوازې په اوو (۷) ساحو کې ترسره شو؛ دویم ساحوي کار د ۲۰۰۸ کال (N۹۹) د نومبر/دسمبر په میاشتو کې په لس ساحو کې سرته ورسېد؛ درېیم ساحوي کار د ۲۰۰۹ کال (N۱۱۲) د نومبر/ دسمبر په میاشتو کې په ۱۱ ساحو کې پای ته ورسېد، څلورم ساحوي کار د ۲۰۱۰ کال (N۸۷) د اپریل/مې په میاشتو کې په ۱۱ ساحو کې بشپړ شو؛ پنځم ساحوي کار د ۲۰۱۰ کال (N۳۲۰) په ۲۳ ساحو کې سرته ورسېد. له شپږم ساحوی کار څخه چې د ۲۰۱۱ (N۴۴۷) کال له اپریل څخه بیا د ۲۰۱۳ کال تر نومبر پورې موده یې په برکې ونیوله، ۲۸ ساحې یې تر پوښښ لاندې راوستلې. اوم دور د ۲۰۱۱ کال (N۳۷۳) په نومبر/دسمبر کې پای ته ورسېد؛ اتم ساحوي کار د ۲۰۱۲ کال (N۴۲۲) په اپریل/مې میاشتو کې ترسره شو؛ نهم دور د ۲۰۱۲ کال (N۴۰۴) په نومبر/ دسمبر کې بشپړ شو؛ لسم دور د ۲۰۱۳ کال (N۴۲۲) د اپریل/ مې په میاشتو کې سرته ورسېد؛ یوولسم ساحوي کار د ۲۰۱۳ کال (N۴۷۲) په نومبر کې بشپړ شو؛ د ساحوي کار دولسم پړاو د **۲۰۱۵** کال د مې په میاشت په لسو ساحو کې د ۱۴۰ ژورو مرکو په ترڅ کې پای ته ورسېد. د ساحوي کار وروستی پړاو د ۲۰۱۷ کال د اپریل / مې په میاشت کې بشپړ شو، چې په هغه کې ۳۰۰ مرکې شاملې وې. له نوموړو مرکو څخه ۱۸۰ مرکې د هلمند د خوړو زون په ۱۲ څیړنیزو ساحو، او ۱۲۰ مرکې یې د بغرا د کانال په شمال کې د څیړنو په ۸ سیمو کې ترسره شوې.

۹ ـ «د هلمند ولایت په نادعلي ولسوالي کې د کرکیلې سیستمونه،» په افغانستان کې د کرنې سروې، **۱۵** راپور (پېښور: د افغانستان لپاره د سویډن کمیټه، **۱۹۹۲**)، ۱.

## ۳. د تاوتریخوالي مخ پر زیاتېدونکې کچې په اړه راپورونه


په هلمند کې د جګړې او پر ملکي ژوند د هغې د اغېزو په تړاو پراخ او کره شواهد، هغه کرنیزې ځمکې دي، چې شاړې پاتې دي. تر دې مخکې د داسې ځمکو بېلګو شتون درلود، چې د مارجې ولسوالۍ مرکز شاوخوا سیمو کې د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۷ کلونو جګړو له امله شاړې پاتې شوې وې. د کرکیلې په ژمني فصل کې، ډېرې ځمکې تر هغه وروسته پرېښودل شوې، چې دولت د ۲۰۱۷ ز. په اپریل کې په نادعلي کې پوځي عملیات پیل او هڅه یې وکړه، چې د ولسوالۍ مرکز شاوخوا سیمې بیرته تر خپلې ولکې لاندې راولي. جګړې هومره سختې وې، چې **لوی باغ** ته څیرمه د شوکت د پوځي اډې شاوخوا سیمو کې بزګرانو، تر ۴۰۰ هکتاره ډېره زیات د کوکنارو کښتونه او کروندې، همداسې پرېښودې او ځمکو ته د تګ ګواښونه یې پر ځان ونه منل (دویم شکل وګورئ). ځینو بزګرانو راپور ورکړ، چې د دوی د کورنۍ غړي، ځمکو ته د تګ پر لاره وېشتل شوي او ټپي شوي دي.

خو دا یوازې یوه پیلامه وه. د ۲۰۱۷ کال په منې کې، چې په نادعلي کې د ولسوالۍ مرکز او سړک، د افغان حکومت د ځواکونو په لاس کې وو، او طالبانو د یادې ولسوالۍ مرکز په شاوخوا کې میشت وو، په ولسوالي کې د عمده زېربناوو او بنسټونو شاوخوا سیمې د جګړو پر ډګر بدلې شوې وې، هغه بزګران، چې د مخالفو جګړه مارو ځواکونو ترمنځ په جګړو کې بند پاته وو، یوه چاره لرله، چې په ژمي کې خپلې ځمکې پرېږدي او په نورو سیمو کې د امن ځایونو په لټه کې شي. دغه لېوالتیا، په تېره بیا د لوی باغ په شاوخوا کې، چېرته چې تر ۱۰۰۰ هکتاره ډېره ځمکه د ژمي په موسم کې شاړه پاتې شوه، ډېر څرګندیده (دویم شکل وګورئ). هغو کسانو چې وسه یې لرله د ولایت مرکز، لشکرګاه ښار ته وتښتېدل، په داسې حال کې، چې نورو په سیمه او ګاونډیو کلیو کې د خپلو خپلوانو په کورونو کې پناه واخیسته، او په دې هیله وو، چې جګړه به نوره پراخه نه شي. ځینې کورنۍ د بغرا په شمال کې پخوانیو بیاباني سیمو ته، چې د طالبانو په ولکه کې وې، کډه شول. کله چې دغه کورنۍ هلته ځای پرځای شوې، بزګرانو باور پیدا کړ، چې د «طالبانو حکومت» د خلکو او د هغوی د تریاکو ساتنه کوي.

که څه هم، پخوانۍ بیاباني سیمې، د بزګرانو له تمې سره سم، ډېرې امن کې نه وې، خو د جګړو د سیمو په پرتله سوله ییزې سیمې ګڼل کېدې. د کانال پر اوبو د خړوبه شوو سیمو له ځېنو برخو لکه لوی باغ، شین کلی او خوشحال کلی څخه، چیرته چې حکومت د ۲۰۱۸ کال په لومړیو میاشتو کې پکې عملیات کړي وو – د مړو او ټپیانو په اړه په ځانګړې توګه ډېر زیات راپورونه خپرېدل. د بېلګې په توګه، په نادعلي کې یوه بزګر راپور ورکړ، چې لور یې هغه مهال د یوه پولیس له خوا په ډزو ووژل شوه، چې دی د لوی باغ او جنجر سیمې ترمنځ د سفر پرمهال، د پولیسو له یوې پوستې څخه تېرېده. پولیس ټینګار کاوه، چې نجلی لاتراوسه ژوندۍ ده او سړي ته یې امر وکړ، چې په موټر کې یې د لښکرګاه روغتون ته ورسوي؛ هغوی هغه سړي ته اجازه نه ورکوله، چې په هېڅ ډول شرایطو کې بېرته خپل کلي ته ستون شي. سړی چې په دې پوهیده، لور یې لا پخوا مړه شوې وه، موټر یې لشکرګاه ته ورساوه او په خپل موټر کې د مړې شوې لور ترڅنګ ویده شو او سبا ته بېرته خپل کلي ته راستون شو، ترڅو خپله لور ښخه کړي.

نورو کسانو هم د جګړو او تر جګړو وروسته ستونزو له امله، د خپلې کورنۍ د یو غړي د مړینې راپور ورکړ.[10] دوی د خپل ورور، زوی او میرمنې د مړینې په اړه – چې ټول د متقابلو ډزو او په مرکزي هلمند کې د تاوتریخوالي د لوړې کچې له امله رامنځ ته شوې وې- کیسې لري. پر کورنیو د دغه چارې فوري اقتصادي اغېز – د تدفین او تکفین لګښت، د کورنۍ د کارکوونکي غړي او اړوند عاید یې له لاسه ورکول – او په هغو شرایطو کې، چې یو ورور وژل کیده، د هغه د کونډې او زیات شمیر یتیمانو پاتې کیدل دی، چې دا ټولې هغه غمجنې پیښې دي، چې د دغه سیمې کورنۍ ورسره مخامخ دي. د دغو پېښو عاطفي اغېزې لا ډېرې سختې او اوږدمهالې دي. د دغه ډول پیښو په تړاو د خلکو عام غبرګون، ناهیلې او غوسه ده، چې معمولا د جګړې د دواړو ښکیلو لوریو په تړاو څرګندېږي او راپارېږي، خو د دغه ولسي غوسې کچه د دولتي ځواکونو په تړاو خورا زیاته ده.

۱۰ . په ټولیزه توګه، ۱۲ ځواب ورکوونکو د تېرو ۱۲ میاشتو جګړو له امله د خپلو کورنیو د غړو د وژل کېدو په اړه راپورونه ورکړل. د مړینې لویه کچه، د بغرا د کانال شمال په پخوانیو بیاباني سیمو په عینک یا شرشرک دښته کې، رامنځته شوې وه.




لومړی شکل. په مرکزي هلمند کې د خېړنې سیمې

سرچینه: Alcis

په دغه چاپیریال کې، ژمنتیاوې بدلېدونکې او رېښتونې دي: «ماته د طالبانو او حکومت ترمنځ کوم توپیر نشته. خو که چیرې مور په خپله سیمه کې یوازې یو اړخ ولرو، نو دا به ډېره غوره وي؛ که چېرې دواړه لوري په سیمه کې شتون ولري، نو جګړه حتمي ده».[11] ډېرو خلکو یوازې امنیت غوښت او هغوی ته دا اړینه نه وه، چې دغه چاره د چا له خوا تامینېږي؛ لکه څرنګه چې په خوشحال کلي کې یوه بزګر وویل، «که چېرې حکومت د دې وړ نه وي، چې په سیمه کې امنیت ټینګ کړي، نو حکومت دې طالبانو ته پرېږدي، ترڅو جګړه او فساد ورک شي.»[12] په یقین سره ویلای شو، چې له حکومت څخه ملاتړ خورا کمزوری و؛ ځکه چې د حکومت له خوا د خدمتونو وړاندې کول، ډېر محدود و، د فساد په اړه تورونه خورا ډېر وو او د بې امنیتۍ او نه خوندیتوب کچه هومره لوړه وه، چې پلار او مور، په داسې سیمو لکه مارجه A۲، چې د ولسوالۍ په مرکز کې موقعیت لري، د ناامنۍ له ویرې خپل کوچنیان ښوونځیو او سیمه ایز کلینیک ته نه شوای استولی. په نادعلي کې د افغانستان د امنیتي او دفاعي ځواکونو د کانال د سیمې قوماندانۍ، هغه هڅه چې له مخې یې غوښتل، د ۲۰۱۸ کال د مې په میاشت کې، د نوآباد شاول بازار له طالبانو څخه ونیسي، د ۲۷ سرتیرو د مړینې او په سیمه کې د عمده اقتصادي مرکز د تړل کېدو – لامل شوه. (دریيم شکل وګورئ).

پر حکومت د خلکو غوسه ځکه ډیره راپارېدلې وه، چې حکومت په یوه سیمه کې هم د امنیت د ساتلو وړتیا نه لرله. د خلکو لویه برخه، چې د **نادعلي** په لویدیځ د **بغرا** په اړوندو سیمو لکه خوشحال کلي او شین کلي کې اوسېدل، ډېر زیات په غوسه وه او دولتي ځواکونه یې پر دې تورنول، چې د ۲۰۱۶ کال په وروستیو کې هغوی یې یوازې پرېښودل. ان پر پولیسو داسې تورونه هم لګول کېدل، چې له طالبانو څخه یې پیسې ترلاسه کړې، ترڅو سیمه ورته پرېږدي او له طالبانو سره همکاري او مرسته وکړي. لکه څرنګه چې په **شین کلي** کې یوه ځواب ورکوونکي ادعا کوله، چې: «حکومت او طالبان سره یو دي؛ او د یو بل ملاتړ کوي. ځېنې وختونه حکومت پوستې طالبانو ته پرېږدي، او ځینې وختونه بیا طالبان د پلټنو پوستې حکومت ته سپاري. دواړه لوري د سیمې خلک وژني».[13] د حکومتي ځواکونو له اړخه د دغه ډول خیانت احساس او د بست کلا او بولان سیمې په استثنا، چې دواړه لشکرګاه ښار ته نژدې موقعیت لري، د کانال پر اوبو زیاترو خړوبو شویو سیمو کې د محسوسو نیمګړتیاوو او د سیمه ییزو پولیسو د کړنو او چلند له امله، د دغه پېښو د بیا تکرارېدو شونتیا شته.[14]

د مارجې ولسوالۍ په A۲ او D۵-F۴ ساحو کې، هغه دولتي ځواکونو، چې په سیمه کې د طالبانو له خوا کلابند شوي و، د ۲۰۱۸ ز. کال په ټول ژمي کې ځانونه یوازې د ولسوالۍ په مرکز پورې منحصر کړی و. د دغدغې چارې اغیزې د خلکو پر معیشت له ورایه څرګندې وې؛ لکه څرنګه چې د شاړو ځمکو اندازه، د ۲۰۱۷ په ژمي کې له ۱۳۸۵ هکتاره پر ۲۰۱۸ ز. کال ۷۷۱ هکتار ته راټیټه شوه. ( څلورم شکل وګورئ).

لکه څرنګه چې د **مارجې د** A۲ سایټ یو بزګر وایي، «کله چې حکومت دلته شتون نه درلود، جګړې هم نه وې؛ کله چې حکومتي ځواکونه دلته راورسېدل، جګړه هم پیل شوه».[15] د دغه جګړې له امله د مړو شمېر، یو تن راپور شوی، لکه څرنګه چې یو ځواب ورکوونکي بزګر ادعا وکړه، چې دغه کس «د متحده ایالاتو د بمباریو»[16] له امله ووژل شو. ښایي دا د حیرانتیا وړ خبره نه وي، چې په مارجه کې د مرکه شویو کسانو ترمنځ په پراخه توګه ویل کېږي، چې «طالبان[17] دلته د ځواک خاوندان دي او د سیمې په امنیت کې ښه والی راوستی دی..»[18]

١١ . په خوشحال کلي کې ۲ مه مرکه.

١٢ . په لوی باغ کې ۵ مه مرکه.

١٣ . مرکه، شین کلي کې، ۹ شمېره.


١۴ . «دغه مرده ګاو حکومت د خلکو لپاره کار نه کوي. حکومتي ځواکونو لښکرګاه ته وتښتېدل او خلک یې یوازې پرېښودل. وروسته بیا طالبان راغلل او خلک یې ووژل. اوس **اکبری** دلته ده. هغه له طالبانو څخه خورا ډېره ډېر بد دي.» خوشحال کلی، ۳ مرکه.

١۵ . مرکه، د مارجې A۲ سایټ، ۵ شمېره.

١۶ . مرکه، د مارجې F۴D۵ سایټ، ۴ شمېره.


١۷ . په دغه وخت کې مرکه شویو کسانو، د مجاهدینو اصطلاح چې په سویل لویدیځ کې طالبانو ته ویل کېده، کاروله.

١٨ . مرکه، د مارجې F۴D۵ سایټ، ۱۵ شمېره.




دویم شکل. په ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ کلونو کې، په‌لوی باغ، نادعلي کې د پرېښودل شویو ځمکو اندازه ا

سرچینه: Alcis




ځلورم شکل: په مارجه کې د شاړو ځمکو اندازه (کچه)، ۲۰۱۲ – ۲۰۱۸ز.

سرچینه: Alcis

## ۴. ښه خلک چېرته دي؟

د هېروينو د کارخانو پر ضد هوايي بريدونو په هلمند کې نشه يي توکي پياوړي کړي. دغه بريدونه، چې د نومبر پر ۱۹ مه، په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو او د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموريت عمومي قوماندان، جنرال نيکلسون له پراخو تبليغاتو سره پيل شول، د ۲۰۱۸ ز. کال د اګست تر ۸ مې نيټې پورې ۲۰۰ لابراتورونه يې ويجاړ کړل.[19] د متحده ايالاتو پوځي مامورينو ادعا وکړه، چې د ۲۰۱۸ کال تر اپريل پورې هوايي بريدونو «طالبانو ته له مالي پلوه د لسګونو ميليونو ډالرو په ارزښت زيان رسولی دی.»[20] د ۲۰۱۸ کال تر اګست پورې دغه اټکلونه تازه شوي او راپور ورکړ شوی و، چې «هوايي بريدونو د ۴۲ ميليون ډالرو په شاوخوا د طالبانو عايد له منځه وړی دی.»[21]

په همدې حال، د هلمند بزګران دغه عمليات په بشپړه توګه بل ډول ارزوي او پر خپل وړاندې يې د تاوتريخوالي د يوې بلې بېلګې په سترګه ورته ګوري. هغوی دغه ادعاوې، چې دغه کمپاين ګواکې «د نشه يي توکو - بغاوت ضد مبارزه ده،» يا هغه وړانديز، چې ګواکې نشه يي توکي سوداګري او کاروبار په يو ډول نه يو ډول، د ياغيانو عمده موخه ده، لکه څرنګه چې په افغانستان کې د متحده ايالاتو د ځانګړو عملياتو د قوماندانانو له خوا وړانديز شوی دی، نه مني.

بزګران د بغاوت او ترياکو ترمنځ اړيکې[22] له هغه څه سره ورته ګڼي، چې دولت د نشه يي توکو په سوداګرۍ ښکېل دی. د هلمند سيمه ييز خلک د ترياکو پر حاصلاتو د ماليې له ورکړې سره ښه بلد دي، چې تمه کېږي د طالبانو سيمه ييزو قوماندانو ته يې ورکړي، خو دغه ماليه د هغو شمېرو په اندازه نه ده، چې په رسنيو کې د رسمي مامورينو له خوا اعلانېږي. هغوی له هغو مالياتو څخه هم ښه خبر دي، چې په سيمه کې د ترياکو له حمل او نقل هېروينو له توليد څخه اخيستل کېږي، خو د مالياتو دغه نرخونه، په پراخه کچه له هغه څه سره نږدې ورته ده، چې د غنمو پر توليد او پر ډېزلو وضع کېږي او په ټوليزه توګه د ارزښت يوه سلنه جوړوي. بزګران همدارنګه افغان سيمه ييزو پوليسو ته د ترياکو د ماليې له ورکړې سره عادت دي، کله چې دغه ځواکونه يوه سيمه په خپله ولکه ولري. د بېلګې په توګه، کله چې **خوشال کلی** او **شين کلی** د ۲۰۱۸ کال په څو لومړيو مياشتو کې د عملياتو په پايله کې د حکومت لاس ته ورغلل، بزګرانو د ترياکو د هر جريب ځمکې پر سر ۲۰۰۰ پاکستاني روپۍ (چې له ۱۷ ډالرو سره مساوي دي) پوليسو ته ورکولې، چې د طالبانو له بيې سره برابرې وې.

۱۹ . ډان نيسن باوم، «د متحده ايالاتو په مياشتو مياشتو بريدونو، د طالبانو د ترياکو سوداګرۍ په له منځه وړلو کې له ماتې سره مخامخ شوي دي: په افغانستان کې پر بغاوت فشار راوړل د ډلو د عوايدو عمده سرچينې نه دي وچې کړې»، وال ستريت ژورنال، د ۲۰۱۸ کال ز. د اګست ۸ مه.

۲۰ . غوڅ ملاتړ ماموريت، ((د هوايي ځواکونو اکتشافي ۳۷۱ ټولګې، د طالبانو د نشه يي توکو مرکزونه بمبارد کړي))، د ۲۰۱۸ کال د مې ۸ مه.

۲۱ . نيسن باوم، ((د متحده ايالاتو مياشتني بريدونه ...))

۲۲ . ميشل فيلپس، «د متحده ايالاتو بريدونه، په افغانستان کې د طالبانو لپاره د تمويل سرچينه ده»، وال ستريت ژورنال، د ۲۰۱۸ کال د مې ۳۰ مه.




دریيم شکل د نوآباد شاول بازار پراختيا او ترل کېدل يې، نادعلي، ۲۰۰۸ـ ۲۰۱۸

سرچينه Alcis

سیمه ییز خلک د حکومتي ځواکونو له لوټماري او پرته له کوم دلیل د پیسو غوښتنې له مجازاتو سره هم ښه بلد دي. د بیلګې په توګه، د ۲۰۱۸ ز. کال په اپریل کې، هغه بزګرانو چې د بغرا شمال د آب پاشک دښتې په ۲۲ کیلومترۍ کې د لوی مانده دښتې پر خوا میشت وو، راپور ورکړ، چې د ګرشک د پولیسو د لوټمارۍ موخه ګرځېدلې (د موقعیت لپاره لومړی شکل وګورئ). ویل کیږي، چې د کوکنارو د حاصل اخیستلو پرمهال، کله چې د بزګرانو صندوقونه د ډکیدو په حال کې وي، پولیس د تریاکو د نیولو په موخه کور په کور ګرځیدل. یو بزګر ادعا کوله، چې د دغه کمپاین په موده کې یې نږدې ۵۰ کیلو ګرامه تریاک له لاسه ورکړي دي. هغه نه شو کولی چې د حکومتي ځواکونو او سیمه ییزو ځورواکو په تړاو خپله کرکه پټه کړي. ډېرو خلکو باور درلود، چې د دغه کمپاین تر شا د ولسي جرګې استازي معلم میرولي لاس و. لکه څرنګه چې یوه ځواب ورکوونکي څرګنده کړه: «چارواکي راغلل او زما له کور څخه یې ۱۱ منه [23] تریاک واخېستل؛ د کافر زامن د غلا لپاره راغلي وو. دا حکومت نه دی، دوی مازې غله دي؛ دوی دلته مازې (یوازې) د لوټلو او چور لپاره راغلي وو.» [24] په همدغه کلي کې یو بل بزګر شکایت کاوه: «عملیات دې ځای ته راورسېدل او له خلکو څخه یې تریاک واخېستل او راټول کړل. خلک وایي، چې معلم میرولي پولیسو ته وویل، چې، دښت ته لاړ شئ او خلک لوټ کړئ.» [25]

ځېنو نورو بزګرانو ادعا وکړه، که د **افغان ملي اردو** دلته نه وای، نو دوی به هم لوټل شوي وای. کله چې طالبانو څو ورځې وروسته دغه برید له ماتې سره مخ کړ، دا تر هغه مخکې نه و، چې د آب پاشک دښتې مشران، د هر کوهي پر سر یې (۴۰۰۰) پاکستانی روپۍ (۳۲ امریکایي ډالر) را ټولې کړې، ترڅو دغه کمپاین پای ته ورسید.

۲۳ . من، په افغانستان کې د وزن واحد دی. په هلمند کې یو من له ۴.۵ کیلو ګرامو سره برابر دی.

۲۴ . مرکه، لوی مانده دښته، ۹ شمېره.

۲۵ . مرکه، لوی مانده دښته، ۸ شمېره.

## ۵. پر لابراتوارونو بمبارۍ یا د نورو ستونزو رامنځته کیدل:

په داسې حال کې، چې د غربي (لویدیځو) څارونکو له انده، د لابراتوار کلمه د کلینیک د چاپیریال تصور رامنځ ته کوي، خو په هلمند کې لابراتوار، یا «کارخانه» په سیمه ییزه توګه تر یوې چاردیوالۍ لږ کوچنۍ، کوچنی انګړ، چارتاقي یا برنډې ته ویل کیږي. ان تجهیزات یې ابتدایي او ساده دي؛ د ۲۰۰ لیتره زاړه فلزي بیلرونه، چې پخوا به د ډیزلو د ساتلو لپاره ترې ګټه اخیستل کیدله، د فلزي یا پلاستیکي کنډولو (کاسو) یوه ټولګه، یو اوتو او د پرمختللې تکنالوژۍ په اصطلاح د ګازو څو اشتوپونه یا برنرونه، چې د بیلرونو د تودولو لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي، دي.[۲۶]

د دغه ډول کارخانو شمیر زیات دی؛ ډېری یې هغه ودانۍ دي، چې پخوا به اجاره دارانو او کرایه کوونکې بزګران پکې اوسیدل، یا داسې یو انګړ دی، چې څښتن یې تر هغه وروسته چې ځان ته بل ښه کور جوړ کړی یا شتمن شي، پرېښې دی، یا ځینې وختونه هغه ودانۍ دي، چې یوازې د هیروینو د تولید لپاره جوړې شوې دي. په داسې حال کې چې په ښاري سیمو کې د لابراتورونو په اړه کرکه شتون لري – هغه څه چې ویل کیږي، طالبان ورسره مخالفت لري – بزګران وایي، چې د هلمند په لیرې پرتو سیمو کې یې هومره ډېرې کارخانې جوړې کړې، چې بریدونه پر تولید شوو هیروینو ډېره کمه اغیزه کوي. لکه څرنګه چې د بغرا په لوی مانده دښته کې یوه بزګر ادعا وکړه: په هره سیمه کې خورا ډېرې کارخانې شتون لري. کله چې یوه کارخانه بمبارد شي، ۱۰۰۰ نورې کارخانې شتون لري. د حکومت لپاره دغه کمپاین هیڅ ګټه نه لري» [۲۷] ډېری خلک د دغو عملیاتو اغیزناکتوب تر پوښتنې لاندې راولي، ځکه چې د هغوی په باور دغه چاره، د کارخارنو د مالکینو پر پانګو خورا کمه اغیزه لري.

لابراتورونه په ټولیزه توګه د شخصي مالکیت، ټیټې کچې تکنالوژۍ کورنۍ (کورنۍ اقتصادي تشبثات) ډوله تاسیسات دي، چې کیدای شي د یوه خپلوان یا ګاونډي په کور کې وموندل شي. په سیمه کې، نږدې هر څوک پر دې پوهیږي، چې هیروئین په کومو کورونو کې تولیدیږي، خو پر لابراتورونو د هوایي بریدونو د اصلي موخو په تړاو ژور شک شتون لري؛ ډېری بزګران د حکومت او په افغانستان کې د میشتو امریکایي ځواکونو له خوا د نشه یي توکو او یاغیانو ترمنځ د اړیکې په تړاو ادعاوو باندې شکمن دي. د ډېرو مرکه شویو کسانو په اند، دغه هوایي بریدونه د داسې یو دولت په اړه نورې بیلګې او شواهد دي، چې لومړیتوبونه یې په خپله له دوی سره همغږي نه لري، بلکې د نړیوالې ټولنې د ګټو تر اغیزې لاندې دي، چې تر ډېره په خپلو هیوادونو کې د نشه یي توکو د کارونې په اړه اندیښنې لري.

د بغرا په شمال کې اوسیدونکې بزګران ډېر په غوسه وو او ادعا یې کوله، چې د حکومت او امریکایي ځواکونو له خوا پر دوی ډېر هوایي بریدونه ترسره کیږي.[۲۸] داسې نه ترسترګو کیږي چې پر لابراتورونو باندې بریدونه د طالبانو مالي مرستو ته زیان رسولی وي، بلکې په سیمه کې د امنیتي وضعیت د لاخرابیدو لامل شوی او سیمه ییز خلک یې له لوی مستقیم ګواښ سره مخ کړي دي. د عملیات په لومړیو ورځو کې د موسی کلا ولسوالۍ له مرکز څخه د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې په اړه، راپورونه ورکول کیدل (پنځم شکل وګورئ) [۲۹] په داسې چاپیریال کې، چې د جګړو د زیاتوالي له امله ورسره د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په کچه کې هم زیاتوالي راځي؛ او په داسې سیمه کې، چې هلته د تریاکو تولید د سیمه ییز اقتصاد لپاره بنسټیز عنصر جوړوي، د هیروینو پر لابراتوارونو بریدونه، د ځایي خلکو پر وړاندې، د تاوتریخوالي د پراخ کمپاین یوه برخه ګڼل کیږي.

۲۶ . ام. بارکر او س. یوسفزی، «د طالبانو قوماندان په ښارونو کې د لابراتورونو د بندولو امر کړی دی. ګاردین، د ۲۰۱۸ کال د مې ۲۸ مه.

۲۷ . مرکه، لوی مانده دښته، ۴ شمېره.

۲۸ . «دا حکومت د کافرانو دی. د کارخانې په پلمه، د خلکو کورونه ورانوي. (مرکه، شوراوک دښته، ۲شمېره)؛ «زه د کارخانې ښځه غ... هره ورځ په هلمند کې ډېر خلک وژل کېږي او حکومت هېڅکله د دې پوښتنه هم نه کوي، جې دوی څوک دی، هغوی یوازې په کارخانې پسې ګرځي.» (مرکه، شین کلی دښته، ۸ شمېره)؛ «بهرنیانو په **موسی کلا** او **نوزاد** کې کارخانه بمبارد کړه. دا په ما پورې اړه نه لري. زه د هغوی مور غ... ! که دوی (حکومت او بهرنیان) ځواکمن دي، نو ولسوالۍ دې ونیسي او خلکو ته دې امنیت راولي، خو ټولې ولسوالۍ د طالبانو په واک کې دي.» (مرکه، شین کلی دښته، ۳ شمېره)؛ «د حکومت مور غ... ! هغوی له کومې ګټې پرته (د کارخانو) بمبارد پیلوي. خدای به بهرنیان له هېواد څخه وباسي. دا ټولې ستونزې د هغوی له خوا رامنځ ته کېږي.» (مرکه، شنه جامه، ۷ شمېره)؛ «امریکایانو په **موسی کلا** کې یوازې دوې کارخونې وېجاړې کړې؛ بمبارد پر کوکنارو کومه اغېزه ونه کړه. سږ کال د پروسږ کال په پرتله کوکنار ډېر دي او زه راتلونکي کال کې بیا هم کوکنار کرم. دغه عملیاتونه، له حکومت سره زموږ مخالفت لا ډېر کړ؛ ځکه چې د خلکو کورونه یې وېجاړ کړل.» (مرکه، شنه جامه، ۱ شمېره).

۲۹ . مرکه، شین کلی دښته، ۱ شمېره «بهرنیان د کارخانو د وېجاړولو په نوم د سیمې د خلکو کورونه وران کړل. هغوی د یوې کورنۍ ټول غړي ووژل. موږ له دې عملیاتو څخه کرکه لرو.»

## ۲. د وضعیت لا ترینګلتیا

په داسې حال کې، چې بزګرانو دا خبره نه منله، چې پر کارخونو برید، د هیروینو پر تولید او د یاغیانو پر مالي سرچینو اغېزه کړې، خو دا خبره یې کوله، چې دغه چاره پر ټولیز اقتصاد ناوړه اغېزه کړې ده. په دې برخه کې د مطرح وړ یوه موضوع دا وه، چې کارخانې، په سیمه ییزه کچه کاري اسانتیاوې رامنځته کوي، خو بزګرانو ته تر ټولو اړینه موضوع دا ګڼل کېدله، چې دغه «کارخانې»، هغه اصطلاح چې ځایي خلکو کاروله، د تریاکو لومړني اخیستونکي (مشتریان) دي، چې په مرکزي هلمند کې د ډېرو بزګرانو معیشت پرې تړلی دی.

د ۲۰۱۸ کال د مې میاشتې له لومړیو تر نیمایي پورې، د تریاکو بیه ډېره ټیټه شوه. په داسې حال کې چې کروندګرو خپل تریاک په تیرو دولسو میاشتو کې، من په ۴۵۰۰۰ تر ۷۲۰۰۰ روپیو (هر کیلوګرام له ۸۴ تر ۱۳۵ ډالرو) پلورلي وو، د کانال پر اوبو خړوبو شوو سیمو کې، د ۲۰۱۸ ز. کال د حاصل تر اخیستل کېدو وروسته، د هر من تریاکو بیه ۱۷۰۰۰ روپیو (هر کیلو ګرام یوازې په ۳۰ ډالرو) ته راټیټه شوه. ان د هلمند په پخوانیو بیاباني سیمو کې، چیرې چې د تریاکو د محتوا او د کم رطوبت له امله، د ۲۰۱۸ کال په مې میاشت کې د تریاکو د یوه من بیه په ۲۵۰۰۰ روپۍ (کیلو ګرام په ۴۷ ډالره) وه، چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله خورا ډېرې ټیټې وې، چیرې چې یو من تریاک له بزګرو څخه من په ۹۰۰۰۰ روپیو (کیلو ګرام په ۱۲۹ ډالره) اخیستل کیده.

د تریاکو په نرخونو کې دغه ډول ټیټوالی، د سملاسي حاصلاتو د اخیستو پر مهال عمومیت لري، او تر ډېره کچه د مارکیټ هغه کړنه ښیي، چې هڅه کوي، په داسې یو وخت کې اندېول ومومي، چې د تولید کچه په کرل شوې ځمکه کې د تو پیر له امله ناڅرګنده پاتې وي، او د تولید شویو تریاکو حاصل او کیفیت، کیدای شي په یوې کوچنۍ سیمه کې هر وخت د حاصلاتو فصل د بېل او متفاوت ماهیت له امله توپیر ولري. د بیو په اړه د میاشتنیو معلوماتو راټولول ډېرو کمو بدلونونو ته انعکاس ورکوي، په تیره بیا کله چې د تریاکو د کیفیت او سرچینې توپیر ته ډېر ارزښت ور نه کړل شي. (شپږم شکل وګورئ) مسافرتي حاصل اخیستونکي یا کارګر، په دې برخه کې نورې ګډوډۍ رامنځته کوي. په سویل لویدیځ کې په دې برخه کې د حاصل د یوې برخې ورکړه – پر ۲۰۱۸ د بیو د ټیټوالي له امله د حاصل ۱/۵ یا ۱/۴ برخه وه. دغه مسافر کارګر، لیواله وي، چې خپل حاصلات په سیمه کې په ټیټه بیه وپلوري؛ ځکه کیدای شي، نورو سیمو ته د لیږد په صورت کې، ولوټل شي، ونیول شي او د بدې د ورکړې له پیښې سره مخ شي. په دې توګه دغه ډول پلور او خرڅلاو، د مجبوریت له مخې دي او هڅه کیږي، چې د تریاکو بیه په مصنوعي توګه تر هغه وخته پورې ټیټه وساتل شي، چې د حاصل وخت پای ته ورسیږي.

شپږم شکل: له نشه یي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر، له ساحوي کار څخه د نیتې، کیفیت او سرچینې له مخې جلا شوي پرتلیز معلومات.




UNODC = له نشه یي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر

سرچینه = له نشه یي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر، د افغانستان نشه یي توکو د بېې څارنې له راپور څخه میاشتنۍ بیې، جون، ۲۰۱۸، اتم مخ؛ له ساحوي کار څخه په بیاباني سیمو او کانال کې د تریاکو بیې.

له دغه پوهاوي او د نورو پرله پسې پیښو په ځانګړې توګه د ایرانۍ پیسو ریال د بیې بې ساري ټیټیدو سره سره، کروندګرو، د تریاکو د بیې ناڅاپي رالوېدل، د هوایي بریدونو پایله ګڼله. په تیره بیا په دې برخه کې، یو ځل بیا افغان حکومت او د متحده ایالاتو پوځي ځواکونه پړ وګڼل شو. د دغو تورونو یوه بېلګه، په لوی باغ کې د یو بزګر یادونه وه، چې پر خپلو لابراتوارونو یې بریدونه «ښه عملیات نه ګڼل. امریکایان غواړي،




پنځم شکل. په افغانستان کې د میشتو امریکایي ځواکونو ویډیویي انځور، چې په موسی کلا کې د هیروینو پر یوه ادعا شوی لابراتور هوایي برید جوتوي. سرچینه: د دفاع د وزارت خبرونه.[1]

١ د دفاع وزارت له خبرونو څخه سکرین شات ګرب «په افغانستان د پوځي عملیاتونو په تړاو د غوڅ ملاتړ ماموریت د عمومي قوماندانۍ نوی شوي راپورونه»، د ۲۰۱۷ کال د نومبر ۲۰ مه، https://dod.defense.gov/Videos/videoid/۵۲۷۰۳۵/#DVIDSVideoPlayer۱۱۳۳، د لاسرسي نېټه، د ۲۰۱۸ کال د سپتمبر ۱۹ مه.

چې د بزګرانو اقتصاد وېجاړ کړي.»[۳۰] یو شمیر بزګرانو د ایراني ریال، چې په سیمه کې د تومن په نوم یادېږي، دبیې راټیټېدل، په دې برخه کې د بیو د ټیټو لامل ګاڼه او ویل یې، چې سوداګر وېره لرله، چې ښایي ایراني پیسې، د تریاکو له پلورل کیدو وروسته، نور هم د ډالرو او افغانیو په وړاندې خپل ارزښت له لاسه ورکړي، په داسې حال کې، چې ایراني ریال له دوی سره پاتې وي. یو شمیر مرکه شویو کسانو ان له افغان حکومت څخه یې غوښتل، چې د ریال بیې د ثابت ساتلو په برخه کې مداخله وکړي.

د اخبره له بزګرانو څخه لږ اوریدل کیدله، چې د تریاکو د بیې رالویدل او د هغوی د اقتصاد خرابیدل، د ډېر بیځایه تولید له امله وګڼي، ان د هلمند په هغو سیمو کې، چې د زیاتې کرکیلې څرکونه له ورایه څرګند و، په ځانګړې توګه د بغرا د شمال په پخوانیو بیاباني سیمو کې. داسې نښې نښانې ډېرې کمې تر سترګو کیدې، چې حکومت وغواړي د بست کلا او بولان له پولو هاخوا، د کوکنارو کرکیله محدوده کړي؛ ان په بست کې د کوکنارو کښت دوام درلود. په بولان کې، د کوکنارو له کرکیلې څخه مخنیوی، په سیمه کې د بارکزیو له یو ځواکمن مشر حفیظ الله خان سره د هوکړې پایله وه، په دې برخه کې د حکومت امر کومه ونډه نه لرله. په نورو ځایونو کې حکومت ډېر بوخت وو؛ لکه څرنګه چې په نوی باغ سیمه کی یوه بزګر وویل، «حکومت پر جګړو ډېر بوخت دی، او د کوکنارو پر وړاندې د بیانیو د صادرولو وخت نه لري.»[۳۱]

د کرکیلې کچې د لوړېدو ترڅنګ، د هلمند په ولایت کې له ۲۰۱۲ څخه تر **۲۰۱۵** پورې د کمزوري حاصل پر ځای، د تریاکو حاصلاتو بشپړه ښه والی وموندل (۷ شکل وګورئ). پر ۲۰۱۸ کال، د هلمند د کانال په سیمه کې، له هر جریب څخه له ۲ تر **۳** منه (له هر هکتار ځمکې څخه له **۴۵** تر **۵**،**۲۷** کیلو ګرامه پورې) د تازه تریاک حاصل واخیستل شو، او د بغرا شمال پخوانیو بیاباني په سیمه کې، هرې جریبې ځمکې، **۵**،**۳** منه (هر هکتار **۷۵**،**۷۸** کیلو ګرامه) حاصل ورکړ. د دغه کچې د مزیت له مخې و، په ځانګړې توګه د **۲۰۱۴** کال د حاصل له تجربې وروسته، چې له یوه جریب څخه څه دپاسه یو من تریاک او پر **۲۰۱۵** ز. کال له هر جریب څخه څه دپاسه نیم من زیات حاصل واخیستل شو. په هرصورت، د تریاکو په نرخونو کې درې برابره ټیټوالی او د ډېرو بزګرانو له خوا د حاصل په وخت کې من په ۱۲۰۰۰ تر ۲۰۰۰۰ کلدارو (هر کیلو ګرام په **۲۹** تر **۳۲** دالرو) د تریاکو خرڅېدل، په دې برخه کې ښه زیری نه و.

په داسې حال کې، چې د تریاکو بیه لږه موده وروسته په چټکۍ سره لوړه شوه او د **۲۰۱۸** کال په جون کې من ۲۰۰۰۰ روپیو (کیلو ګرام په **۱۰۸** ډالره) ته ورسیده، خو د ساحوي کار په وخت کې د تریاکو د بیو راټیټیدل، ډېر دردونکی او سخت وو[۳۲]. د بزګرانو له خوا په مرکزي هلمند- په تیره بیا د غریبو او لږو ځمکو لرونکو بزګرانو ترمنځ – د جدي ناروغیو په اړه لکه د بډوګو له کاره لوېدل، سرطان او په جګړې کې د ټپي کیدو په اړه شکایتونو وجود درلود، چې په درملنه کې یې بې وسه وو. ځینو کروندګرو ویل، چې خپله ټوله شته لکه موټر سایکلونه، موټر او څاروي یې پلورلي، ترڅو پر پیسو یې خپله درملنه وکړي. د پورونو ترلاسه کول، هم ستونزمن و او لکه څرنګه چې بزګرو له ناڅرګندې اقتصادي ودې سره د برخورد په لټه کې و، نو هلته د سپما نښې نښانې تر سترګو کیدې. په کور کې د اقتصادي وضعیت د مدیریت کولو یوه ټولیزه تګلاره ایران ته د کار لپاره د کورنۍ د غړو استول و، چې دغه چاره هم په ایران کې د ریالو د ارزښت د راټیټیدو او په دغه هیواد کې مخ په زیاتیدونکي اقتصادي ناورین له امله له ستونزو سره مخ شوې وه. په پایله کې، هلته د پرمختیایي مرستو محدودې نښې ترسترګو کیدې. د بزګرانو یوې کوچنۍ ډلې ادعا کوله، چې په تیرو دولسو میاشتو کې یې یوه بوجی غنم یا یو څه کیمیاوي سره ترلاسه کړي؛ ځکه چې د لشکرګاه د کرنې په ریاست کې یې ځینې کسان پیژندل، خو په ټولیزه توګه د هغو پرمختیایي کړنو پروژو په اړه، چې ځایي خلکو ته د بغرا په شمال یا سویل کې ګټه ورسوي، ډېر لږ معلوماتو شتون درلود.

یوازې په بولان او بست کلا کې، د سیمه ییزو خلکو له هغه ټولیز اعتراض، غوسې او ناخوښیو څخه مخنیوی شوی و، چې د مرکزي هلمند له کلیوالي سیمو سرچینه اخیستې وو. په دغو دوو سیمو کې، لشکرګاه ته د ښې باغدارۍ او کار چمتوکوونکي دواړه، د افغان دولت او له هڅو څخه یې ډېر زیات ملاتړ کاوه. په ښار کې د غیر کرنیزو عایداتي اسانتیاوو شتون، ان حکومتي معاشونه، او د پسرلي او دوبي سبزیو، او د انګورو او انارو پایښت لرونکې میوې، تر ټولو اړین د یو باثباته او امن چاپیریال شتوالی، د شکایت کچه راټیټه کړې وه. په بولان کې یو بزګر یادونه وکړه، «د دغه دولت له امله زموږ سیمې په امن کې دي، موږ په اسانۍ سره کولی شو په خپله ځمکه او کرونده کې کار وکړو موږ له دې حکومت څخه ملاتړ کوو.»**۳۳**

۳۰ . مرکه، لوی باغ، ۲ شمېره.

۳۱ . مرکه لوی باغ، ۷ شمېره.

۳۲ د جون په لومړیو کې په هلمند کې د تریاکو نرخ یو ځل بیا د پخوانیو دښتو په سیمه کې ۲۰۰۰۰ روپیو (کیلو ګرام په ۱۰۸ ډالره) ته ورسېده، خو د ساحوي کار په وخت کې د تریاکو د بیو راټیټېدل ډېر دردونکي او سخت وو، او د کانال د قوماندانۍ په ساحه کې **۵۰۰۰** روپیو ته راورسېده، دغه بیه په مني کې من **۳۵۰۰۰** تر ۴۰۰۰۰ ته او د جون په اومه ۴۸۰۰۰ تر **۵۲۰۰۰** روپیو ته راټیټه شوه.

۳۳ مرکه، بولان، ۷ شمېره.

په دغه سیمه کې د کوکنارو د کرکیلې او د تریاکو پر لابراتوارونو د بریدونو په تړاو، د خلکو اندونه او لیدلوري د مرکزي هلمند د نورو سیمو په پرتله، ډېر توپیر لري. په ټولیزه توګه، د دغو دوو سیمو بزګران د حکومت له هڅو څخه ملاتړ کاوه، او د هلمند د سیند پر غاړه پر نشه یي توکو د روږدو کسانو د شمیر ډېرزیاتیدل یې، د تریاکو د تولید منفي اغیزه ګڼله.[۳۴] په بولان کې یو ډول هوساینه احساس کیده، چې سږ کال کروند ګرو تریاک نه دي کرلي، د دې سیمې خلکو هغوی پر دې پوهیدل چې د تریاکو د بیو راټیټیدل، د دې مانا ورکوي، چې د تریاکو دغه بیې نه شي کولی د کرکیلې لګښتونه هم برابر کړي.



اوم شکل: د هلمند د کانال د قوماندانۍ په سیمه کې د تریاکو سالم کښت، د ۲۰۱۸ کال اپریل

سرچینه: Alcis

۳۴ «دا یو ښه عملیات دی، موږ به د هیروئینو له ګوابښ څخه خلاص شو» مرکه، بست ۱۳ شمېره، موږ له دې [عملیاتو] څخه ملاتړ کوو؛ ځکه چې په **لښکرګاه** کې خلک په هیروئینو روږدي شوي دي.» مرکه، بولان ۸ شمېره.

## ۷. پایله

دغه څیړنه څرګندوي، چې د لشکرګاه ښار له محدودې پرته، د افغان حکومت په وړاندې د لیوالتیا کچه کمه ده، او په سمه یا غلطه توګه، ځایي هلمندیان د خپلو دردونو او غمونو پړه پر حکومت اچوي. د تاوتریخوالي مخ پر زیاتیدونکې کچه، ډېرفساد، او مخ پر ځوړ اقتصادي وضعیت چې لامل یې د تریاکو د ببو راټیټیدل دي، د سیمه ییزو خلکو په اند، افغان حکومت او د هغه امریکایي ملاتړي په دې برخه کې مسوولیت لري. په داسې حال کې، چې په بست کلا او بولان کې له حکومته د ملاتړ څرکونه ترسترګو کیدل، خو د نادعلي، مارجې، نهر سراج او ان د ناوې پر سړک یو څو کیلومتره سفر، په کابل کې میشت دولت سره د خلکو ښکیلتیا په ډاګه کوي.

د دغه ولسي غوسې سرچینه د تاوتریخوالي هغه مخ پر زیاتیدونکې کچه ده، چې هره ورځ ځایي وګړي یې زغمي. شواهد خورا زیږ او جوت دي؛ د جګړې له امله له خپلو ځمکو څخه د بزګرانو د تیښتې په پایله، د شاړو ځمکو د کچې زیاتوالی؛ ډېرتش او خالي بازارونه؛ د سیمه ییزو خلکو ترمنځ د مرګ ژوبلې مخ پر زیاتیدونکې کچه ، ورځ تر بلې د هوایي بریدونو زیاتوالی، د مرکزي هلمند په ډېرو سیمو کې د وېرې او اندېښنې کچه لوړه کړې ده.

له دغه څیړنې څخه څرګندېږي، په دغه ډول بې ثباته چاپیریال او سیمه کې، د هیروینو پر کارخانو هوایي بریدونه، چې د **۲۰۱۷** ز. له نومبره پیل شوي، داسې نه انګیرل کیږي، چې دا به د بغاوت ضد مبارزې د یوې برخې په توګه د طالبانو د عایداتي سرچینو د له منځه وړلو لپاره، د افغان حکومت او په افغانستان کې میشتو امریکایي ځواکونو لیوالتیا وي. د تریاکو د مالیاتو په ورکړه کې د بزګرانو تجربې، او همدارنګه د تریاکو د بازار یا مارکیټ جوړښت، د «کارخانو» موقعیت او کړنه ټول له خلکو سره د دې لامل ګرځي، چې خلک باور وکړي، د طالبانو او نشه یي توکو د سوداګرۍ ترمنځ اړیکې، له هغو اړیکو سره کوم توپیر نه لري، چې حکومتي رسمي مامورین یې لري. همدا ډول د لابراتوارونو پر وړاندې هوایي بریدونه، د نشه یي توکو پر وړاندې کوم ګټور اقدام نه ګڼل کیږي؛ ځکه چې ډېری بزګران په مرکزي هلمند کې ادعا کوي، چې دلته ډېر زیات لابراتوارونه شتون لري، چې کیدای شي ویجاړ شي (یعنې دا یو دوه یا څو محدود لابراتورونه نه دي). سربیره پر دې، د «کورنۍ» دغه ډول تاسیسات ، د عملیاتونو په پایله کې کله چې تر برید لاندې راځی، له اقتصادي پلوه ډېر کم زیانمن کیږي، چې په آسانۍ سره بیارغول کیږي.[35]

د دې پرځای، سیمه ییز خلک دغه هوایي بریدونو ته د تاوتریخوالي د یوې پراخې څپې په سترګه ګوري، چې هغوی او د هغوی د ژوند او معیشت تر خپلې موخې لاندې راولي. ښایي دا به حیرانتیا وړ خبره نه وي، چې په داسې یوه سیمه کې، چې هلته د تریاکو اقتصاد دود وي، خلک د بغاوت ضد کمپاین او د نشه یي توکو د لابراتورونو پر وړاندې عملیاتونو ترمنځ کمه اخلاقي تړتیا او پیوستون ته قایل وي. دغه چاره په ریښتیا کې کیدای شي افغان او لویدیځ چارواکي په داسې یو موقف کې راولي، چې کارخانې، چې په سیمه ییزه کچه د کاري اسانتیاوو سرچینه ده، د سیمه ییزو کرنیزو حاصلاتو اخیستونکي دي او مالکان یې کلیوال وګړي یا د هغوی ګاونډیان دي، تر هوایي برید راولي، په دې توګه د دې شونتیا شته، چې پر لابراتوارونو غځیدونکي هوایي بریدونه دسیمه ییز بازار یا مارکیټ له بمبارولو سره برابر او معادل وګڼل شي. دا د هغو ټولو کسانو لپاره ښې نه دي، چې په افغانستان کې د بغاوت او نشه یي توکو د ستونزې لپاره د حل لارې د موندلو په لټه کې دي، خو په یقین سره، ټول هغه کسان، چې په دې برخه کې کار کوي ډاډه شي، چې اقدامات یې له ګټې پرته، نور زیانونه و نه لري.

۳۵ دا د مخدره توکو او جرمونو په اړه د افغانستان په شمال کې د یوې څیړنې موندنه ده چې د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو د ادارې (UNODC) له خوا ئې ملاتړ وشو او وي ویل چې «لابراتوارونه له هر یرغل څخه وروسته ډېر ژور جوړیږي او په تولید پیل کوي» « د شمالی لیاري په اوږدو کې د افغانی تریاکو قاچاق» ,UNODC Vienna, June ۲۰۱۸, page ۱۳.

## ۸. وړاندیزونه

پر لابراتورونو هوایي بریدونه باید ودرول شي. دغه بریدونه د نشه یي توکو پر سوداګرۍ او د طالبانو پر عوایدو ډېره کمه اغیزه لرلې ده. دغه کړنلاره، د توقع پرخلاف زیانمنوونکې ثابته شوې، چې د افغان حکومت او نړیوالو پوځي ځواکونو دواړو په تړاو، د خلکو د دښمنۍ کچه نوره هم لوړه کړې ده. د دې پرځای، ډېره اغیزناکه تګلاره، د عمده قاچاقي شبکو له منځه وړل او د پولو په اوږدو کې، چېرته چې زیاتې ګټې یې له یاغیانو او فاسدو دولتي چارواکو سره په ملتیا او اړیکې جنایتکار سازمانونه ترلاسه کوي، د تریاکو د سوداګرۍ مخنیوی دی.

**په جګړه کې د ښکیلې مخالفې لوري، د عوایدو د له منځه وړلو هڅې، باید د پیاوړو شننو پر بنسټ ولاړې وي.**

تجربې شننې ښیي، چې د نشه یي توکو د لابراتورونو له لارې د یاغیانو له خوا د عوایدو ترلاسه کول، لکه څنګه چې ددغه پالیسي روایتونه ښیي، ډېر اړین نه دی. د یوې اغیزمنې پالیسۍ لپاره، چې وکولی شي، د یاغیانو دغه عایداتي سرچینه وچه کړي، لازمه ده، چې د عوایدو د موقعیت او مختلفو ډولونو د پوهیدو لپاره داسې چوکاټ رامنځته کړو، چې په مرسته یې وکولی شو، چې د عوایدو د بهیرونو هغه ډولونه او موقعیتونه په نښه کړو، چې جګړه مار له مخې یې عواید ترلاسه کوي.

**تصفیوي یا د سیمې د بیرته نیولو عملیاتونه باید د کرنیز فصل په دوران کې ترسره نه شي.**

په افغانستان کې د ژمي فصل په ځانګړې توګه د بزګرانو د معیشت لپاره د حاصلاتو د اخیستلو ښه وخت ګڼل کیږي. په منې او پسرلي کې، د پوځي عملیاتونو ترسره کول، د کلیوالي خلکو پر معیشت د پام وړ اغیزه لرلی شي. په سیمه ییزه کچه، د حکومت او نړیوالو ځواکونو له خوا د کرکیلې یا حاصل اخیستو د فصلونو پرمهال د پوځي عملیاتو په لاره اچول، د ا مانا لري، چې هغوي د خلکو هوساینې ته کمه پاملرنه کوي. هغو کسانو ته د زیان د جبران ورکړه باید اړین وګڼل شي، چې دغه مهال زیان ورته ورسیږي.

**د کوکنارو له ناقانونه کرکیلې څخه د مخنیوي په برخه کی له بزګرانو د ملاتړ لپاره، د اوږد مهالې او روښانې تګلارې جوړول**

د دې ګواښ شتون شته، چې ان که کروندګر هیڅ راز بدیل اقتصاد و نه لري، کلیوالي ټولنې په راتلونکي کې، د نشه یي توکو او کوکنارو د کرکیلې د مخنیوي په برخه کې، د افغان حکومت او افغان پوځونو د اقداماتو ملتیا وکړي. دغه چاره کولای شي د بزګرانو غوسه راوپاروي او ان د سیمو د بیرته نیولو په برخه کې د حکومت د هڅو په وړاندې یې ودروي، او بزګران دې ته اړ کړي، چې له مخالفینو سره یو ځای شي. حکومت باید داسې یوه روښانه دریځ غوره کړي، چې د باثباته او مناسب بدیل د نشتوالي په صورت کې، د کوکنارو او تریاکو پرېکنده مخنیوی او د له منځه وړلو هڅه ونه کړي.

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو يو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: ۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول يو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د خپرونو، غونډو یا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بریښنایي که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت؟

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري نوې خپرونې

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(ښکته کولو لپاره) په www.areu.org.af کې د لاسرسي وړ دي، او ډېرې ئې د هارد کاپې(چاپي بڼه) په ډول په وړیا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نېټه | د خپرونې نوم | لیکوالې ( مولف) | په دري ژبه | په پښتو ژبه | د څېړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۱۳۹۷ لړم | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څېړنه | : میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسۍ نوټ |
| د ۱۳۹۷ مرغومی | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه اداري سازمان او جوړښت څېړنه | میرویس ایوبی او ډاکټر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسي نوټ |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څېړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د کوچیتوب، د کوچیانو او د سیمې د او سېدونکو ترمنځ د شخړو په مدیریت کې د افغانستان د دولت رول | ډاکټر انتونیو ګیستوزی | √ | √ | د کوچیانو او د سیمی د اوسیدونکو ترمنځ ښخړې | تحلیلی څېړنه |
| د ۲۰۱۸ اپریل | نور معیاری پروګرامونه بس دي: په ماتیدونکو شرایطو کې اقتصادي پرمختګ | SLRC | | | تولنیز ملاتړ | لنډه لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه:په افغانستان کې د انسانانو له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | سوپروا نارا سیمهایا | | | ټولنیز ملاتړ | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څېړنه: په افغانستان کې د انسان له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | ولی محمد کنډیوال | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوري | ښاري خوندیتوب: په افغانستان د ښاري سولې جوړونې پروګرام ته بیا کتنه | یما ترابي | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوری | په افغانستان کې د میشتو کوچیانو د شخړو ډولونه | انتونیو ګیستوزي | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۷ نومبر | ناروغتیا یا علامی؟ په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان د ودې کوونکو ترياکو اقتصاد | ویلیام ای. بایرد | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ دسمبر | په افغانستان کې د اروپایی ټولنې د ستونزې د غبرګون تحلیل | چونا آر. ایچاویز، قیوم سروش | | | تولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ اکتوبر | په واقعی توګه بیساری: په هلمند کې د خوړو زون څنګه په ولایتونو کې د ترياکو د تولید د ډیروالی ملاتړ وکړ | دیوید منسفیلد | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال اګست | په افغانستان کې قضایې بیا کتنه | غزال حارس | √ | √ | اساسي قانون | موضوعی څېړنه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۷ کال آگست | په افغانستان کې اجرایي بیا کتنه | کاوون کاکړ | √ | √ | اساسی قانون | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | ښځې د افغانستان په کرنه کې | لینا گانیش | | | جنسیت | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د اوبو په برخه کې د سمونې اغیزې | اتل احمدزی | | | حکومتولي | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | په افغانستان کې ښاري حکومتولی. | دیتلیف کمیر | | | حکومتولي | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د دولت د ادارو دندو ته بیا کتنه | اکسل کویتز | | | حکومتولی | موضوعی څېړنه |
| د ۲۰۱۷ جولای | په افغانستان کې د کوچیانو – بزگرانو شخړې | انتونیو جیو ستوزي | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | لنډیز |
| د ۲۰۱۷ کال جون | په افغانستان کې د حکومتولی د ارزونی چوکاټ (LGAF) | AREU | | | حکومتولی | ریپوټ |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معیشت تگ کربنې: د هرات له درې کلیو څخه بیلگې | دانیل هت، ادم پین او احسان الله غفوري | | | تولنیزه ساتنه | کاري لیکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوري | په افغانستان کې د معیشت تگ کربنې: د «وروسته پرمختیا» په وخت کې ژوند | جیولیا مینویا او ادم پین | | | تولنیزه ساتنه | کاري لیکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معیشت تگ کربنې: د کندهار په ولایت کې چوپ تاوتریخوالی | دانیل هوټ، ادم پین او احسان الله غفوری | | | تولینزه ساتنه | کاری لیکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | زعفران: د تولید تولینزې اړیکې | جیولیا مینویا او ادم پین | | | د طبیعی سرچینو مدیریت | کاري لیکنه |
| د ۲۰۱۲ اکتوبر | د خوځښت وخت: په افغانستان کې د کوکنارو تریاکو، کښت ته د پرمختیائې غبرگون را مینځ ته کول | دیوید منسفیلد، پاول فیشستین او OSDR | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۲ آگست | په افغانستان کې د جنسیت په اړه د ځواب ورکوونکې بودجې جوړول: کار د پرمختگ په حال کې ده | نیلول برتش او سلیمان هدایت | √ | √ | د ملکی خدمتونو سمونه او حاکمیت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۲ آگست | په افغانستان کې د ملکي خدمتونو سمون: ملکی خدمتونو د سکتور وندې او دندې | سید حشمت الله هاشمی او گیر هارد لاوت | √ | √ | د ملکی خدمتونو سمونه او حکومتولی | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۲ جولای | په افغانستان کې د کلیو د شرایطو دشننې کارول: میتوودونه او پراخ دلیلونه | ادم پین | | | پایښت لرونکې معیشیت | کاری لیکنه |



د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

AREU

څېړنې د ښه افغانستان لپاره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري ټولې خپرونې د دغې اداري له کورپاڼې ( www.areu.org.af ) څخه ترلاسه کولای شي.

په کابل کې د دغه اداري په دفتر کې چاپ شوې کاپيانې هم موجودې دي.


**د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**

لسمه ناحیه، لومړی سړک، نوی ښار،
کابل، افغانستان

تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹ (۰) ۹۳+

بریښنالیک: publications@areu.org.af

ویب پاڼه: www.areu.org.af



ISBN 978-9936-641-14-3